وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِیْلًا ط

مُقَدِّمَةُ الجزري

(بمعہ)

ضَابِطۂ اَفْغَانِیْ

(و)

سَلْسِلۂ قَادِرِیَّہ

حسب الفرمایش جناب باباجی صاحب ریاست سوات

(علاقه دنګ پیخیلو دهري)

(کتبہ عبدالودود خوشنویس ریاست سوات غفرلہ) قیمت ۱/۶/۸/-

وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِیْلًا ط

مُقَدِّمَةُ الجَزَرِي

(بمعہ)

ضَابِطَهٔ اَفْغَانِي

و

سُلسِلَهٔ قَادِرِیَه

حسبُ الفرمائش جناب باباجی صاحب ریاستِ سوات

(علاقه دنک پیخیلو ډهري)

(كاتبهٔ عبد الودود خوشرقم ریاست سوات غفرلهٔ) قیمت /۱۶/۸/-

قوله تعالى إنا نحن نزلنا الذكر وإنا له لحافظون ٠ ولقد يسرنا القرآن للذكر الخ

بسم الله الرحمن الرحيم ٥

زينوا القرآن بأصواتكم ويروى زينوا أصواتكم بالقرآن ـ الحديث ٠

يقول راجي عفو رب سامع	محمد بن الجزري الشافعي
د اُتي اميد دار د بخښنې د خدائے پاک چې خدائ چه اوریدونکی دے د دعا د بند یګانو لره ۱۲	هغه امید دار ښوک دے چه محمد صاحب دے چه زیګید لے دے په جزیره د ابن عمر کښې دا محمد د قوم د شافعیو نه دے د مذهب یې احتمال دے
الحمد لله وصلى الله	على نبيه ومصطفاه
ثنا ده خدائ پاک لره نزول د رحمت دِ دی د طرفه د پروردګار نه ۱۲	په نبی د خدائے باندِ چه پاک دے یا مختاره د خدائ دے
محمد وآله وصحبه	ومقرئ القرآن مع محبه
مسی نبی چه نوم یې پاک محمد دے نزول د رحمت دِ دی په آل د د باندی او په اصحابو د د باندی	او نزول د رحمت دِ دی په ولوستونکو د قران باندِ او په دوست ګڼرونکو د قران باندی یا په دوست ګڼرد نکو د لوستونکو د قران باندِ

وبعد إن هذه مقدمة	فيما على قارئه أن يعلمه
او پس له دِ جملو ثلاثو نه داما حضوری الذهن د مصنف چه دی چه خطبه ابتدائیه شی یا د اکتاب چه دے چه خطبه الحاقیه شی یو مقدمه د چه ذه د رتر دلو اند شوے یمه	تابته ده په بحث د هغه شی کښې چه هغه په قاری باندِ چه ځان دِ عالم کاندِ په هغه شی باندِ ـ
إذ واجب عليهم محتم	قبل الشروع أولا أن يعلموا
له دِ وجه نه چه دی قراء باندِ بلکه لازم دی په دوی باندی	چه پخوا د شروع نه او اول د شروع نه چه ځانونه د پوهه کاندِ
مخارج الحروف والصفات	ليلفظوا بأفصح اللغات
په مخارجو دَ حروفو باندِ او په صفاتو دَ حروفو باندِ	د پاره دَ دِ خبری چه تلفظ وکاندِ قاریان په هغه فصیحو لغاتو د عربو باندِ
محرري التجويد والمواقف	وما الذي رسم في المصاحف
فکر کونکے دِ دی او تحقیق کونکے دِ دی ادا د حروفو لره په مخارجو کښې سره د صفاتو نه او پیژندونکے دِ دی ځایونو دَ وقفونو لره	او پیژندونکے دِ دی هغه شی لره چه لیکلی شوی دی په مصحف دعثمان رضی الله عنه کښې

مِنْ كُلِّ مَقْطُوعٍ وَمَوْصُولٍ بِهَا	وَتَاءِ اُنْثٰى لَمْ تَكُنْ تُكْتَبْ بِهَا
هغه شے له هر لفظ نه دے چه جدا لیکلے دی دَ بل لفظ نه او هغه هر هغه لفظ دے چه پیوست لیکلی په مصحف دَعثمان غنی رضی الله عنه کښی	او پیژندنه وکړے د وی تاء د تانیت لره چه نه شی لیکلے په صورت د هاءِ سره
مَخَارِجُ الْحُرُوفِ سَبْعَةَ عَشَرْ	عَلَى الَّذِي يَخْتَارُهُ مَنِ اخْتَبَرْ
مخرجونه د حروفو چه دی اوه لس دی	بنا په قول د هغه چا چه هغو غوره کړے دے دا قول د اولسو او هغه هغه څوک دی چه ازمو ده دی کلام د عربو لره چه امام خلیل صاحب دے
فَاَلِفُ الْجَوْفِ وَاُخْتَاهَا وَهِي	حُرُوفُ مَدٍّ لِلْهَوَلِ اِنْتَهِى
پس مخرج دَ الف چه دے جوف دفم دے او د دواړو خویندو د الف چه واو ئی دی او ذاد دواړه حروف چه دی	حروف د مد دی په هواء د خولی کښی نهایت ته رسیږی
ثُمَّ لِاَقْصَى الْحَلْقِ هَمْزٌ هَا	ثُمَّ لِوَسْطِهٖ فَعَيْنٌ وَّحَا
پس د بیان د حروفو مونږ نه بیخ د مری چه دے مخرج د همزه او د هاءِ دے	پس له مخرج د همزه او د هاء نه وسط د حلق چه دے مخرج دَعین او د حا د دے

اَدْنَاهُ غَيْنٌ خَاءُهَا وَالْقَافُ	اَقْصَى اللِّسَانِ فَوْقُ ثُمَّ الْكَافُ
او ادنی د مری چه دے مخرج دغین او دخاء دے او مخرج د قاف چه دے	بیخ د ژبے دے سره د پاس تالو نه چه برابروی له بیخ د ژبی سره پس مخرج د کاف چه دے
اَسْفَلُ وَالْوَسْطُ فَجِيمُ الشِّينُ يَا	وَالضَّادُ مِنْ حَافَتِهٖ اِذْ وَلِيَا
یا ښکته دے د مخرج د قاف نه او مینځ د ژبے چه دے مخرج د جیم د شین د یٔ دے هغه یا چه مدنه وی	او مخرج د ضاد چه دے اړخونه د ژبے دی په هغه وخت کښی چه پیوست شی دا اړخونه د ژبی
لِاَضْرَاسٍ مِنْ اَيْسَرَ اَوْ يُمْنَاهَا	وَاللَّامُ اَدْنَاهَا لِمُنْتَهَاهَا
د غاښونو د جانب سره چه طواحین دے له کیڼ جانبه او له ښیٔ جانبه	او مخرج د لام چه دے به ادنی حافه د ژبے کښی دے د سره د ژبی پورے د سی
وَالنُّوْنُ مِنْ طَرَفِهٖ تَحْتُ اجْعَلُوا	وَالرَّا يُدَانِيْهِ لِظَهْرٍ اُدْخُلُ
او مخرج د نون چه دے د طرفه د ژبے نه دے ښکته یئے وکړ ذوی د مخرج د لام نه	او مخرج د راء چه دے نیږدے دے مخرج د نون ته شاد ژبے ته یئے داخلوی

وَالطَّاءُ وَالدَّالُ وَتَاءٌ وَمِنْ	عُلْيَا الثَّنَايَا وَالصَّفِيرُ مُسْتَكِنْ
او مخرج د طاء او د دال او د تاء چه دے دسر د ژبے نه دے او له بیخه د ثنایاؤ علیاؤ نه دے	او مخرج د حروفو صفیره ؤ چه دے ثابت دے
مِنْهُ وَمِنْ فَوْقِ الثَّنَايَا السُّفْلَى	وَالظَّاءُ وَالذَّالُ وَثَا لِلْعُلْيَا
په سر د ژبے کښ او په مینځ د ثنایاؤ سفلیه ؤ کښ	او مخرج د ظا او د ذال او د ثا چه دے دا په ثنایاؤ علیاؤ کښ دے
مِنْ طَرَفَيْهِمَا وَمِنْ بَطْنِ الشَّفَةْ	فَالْفَا مَعَ اطْرَافِ الثَّنَايَا الْمُشْرِفَةْ
له سره د ژبے او له سره د ثنایاؤ علیاؤ نه دے او کیدلا د کوزی شونډی چه ده	او مخرج د فاء دے سره د سرونو د ثنایاؤ پورته نو نه
لِلشَّفَتَيْنِ الْوَاوُ بَاءٌ مِيمُ	وَغُنَّةٌ مَخْرَجُهَا الْخَيْشُومُ
او شونډی مخرج د واو د با او د میم دے	او مخرج د غنی خیشوم دے

فَصْلٌ فِي تَوْضِيحِ الصِّفَاتِ

فصل دے په بیان د صفاتو کښ

صِفَاتُهَا جَهْرٌ وَرِخْوٌ مُسْتَفِلْ	مُنْفَتِحٌ مُصْمَتَةٌ وَالضِّدَّ قُلْ
صفات د حروفو د پنځه چه دی جهریه دی رخویه دی مستفله دی	منفتحه دی مصمته دی او ضد د پنځو وایه او د ا یه
مَهْمُوسُهَا فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتْ	شَدِيدُهَا لَفْظُ أَجِدْ قَطٍ بَكَتْ
مهموسه حروف د پنځو چه دی دا لس حرفه دی داضد د جهریه ؤ دی او جهریه چه دی دا نولس حرفه دی	شدیده حروف د پنځو چه دی دا حروف د د دے کلیمو چه اته حروف دی
وَبَيْنَ رِخْوٍ وَشَدِيدٍ لِنْ عُمَرْ	وَسَبْعُ عُلْوٍ خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ حَصَرْ
په مابین د رخویه ؤ او شدیدیه وسره حروف د لن عمر دی	او اووه حروف مستعلیه دی چه په د دی ؤ کلیمو کښ دی او دا مستعلیه بند دی په یاده ؤ حروفو کښ او داضد د مستفله ؤ دی
وَصَادُ ضَادٌ طَاءُ ظَاءٌ مُطْبَقَةْ	وَفِرَّ مِنْ لُبِّ الْحُرُوفُ الْمُذْلَقَةْ
او دا څلور حروف چه دی حروف مطبقه دی او دا ضد د منفتحه ؤ دی	او حروف د فرمن لب چه دی حروف مذلقه دی او دا ضد د مصمته ؤ دی

٤ دصوت دے چه مکرے شی د رخویه ده سره او فرق په مابین د مستعلیو او د مستفله ؤ کښ دا دے چه په وقت د ادا د مستعلیو کښ به ژبه تالو ته اوچته شی او په وقت د ادا د مستفله ؤ کښ ژبه خیږی تالو ته قلقله په لغت کښ جنبش ته و یلے شی او په اصطلاح کښ کول د د حروفو ده ی په جنبش سره نه خو د ورلے ۱۲

ئے فرق په مابین د مهموسه وؤ او د جهوره وؤ کښ دا دے چه په وقت د ادا د حروفو مهموسه وؤ کښ جریان د نفس دے په سبب د ضعف اعتماد د دسره په مخرج او په وخت دادا د جهریه وؤ کښ انحصار د نفس دے په سبب د قوة اعتماد د دسره مخرج کښ اته حروف شدیدیه دی او پینځه بین البین دی بے له دوی نه نور نوولس رخویه دی فرق په مابین د شدیدیه او د رخویه وؤ کښ دا دے چه په وقت دادا د شدیدیه ؤ کښ انحصار د صوت دے په سبب د قوة اعتماد د دسره په مخرج کښ او د رخویه په دوه قسمه دی یو رخویه جهریه دی او بل رخویه مهموسه دی په وقت دادا د رخویه ؤ جهریه ؤ کښ جریان د صوت دے او په وقت دادا د رخویه ؤ مهموسه ؤ کښ جریان د نفس دے او په حروفو د لن عمر کښ نه په کماله وجه سره انحصار د صوت دے چه ملګرے شی د شدیدیه دوه سره او نه په کماله وجه سره جریان ع

صَفِيرُهَا صَادٌ وَزَایٌ سِینٌ	قَلْقَلَةٌ قُطْبُ جَدٍّ وَاللِّینُ
او صفیره حروف د پښتو چه دی دا دری دی او صفیره په لفظ د عربو کښې آواز د مرغۍ ته ویلې شي او دلته صفیره ځکه وائي چه په وقت د ادا د دې کښې خارجیږي آواز پیشان د مرغۍ بورا	قلقله حروف د پښتو چه دی حروف د د دو کلیمو دی او حروف د لین چه دی
وَاوٌ وَیَاءٌ سَكَنَا وَانْفَتَحَا	قَبْلَهُمَا وَالاِنْحِرَافُ صُحِّحَا
واو او یاء دی چه ساکن وی د دی او مفتوح دی هغه حرف چه مخوا له دینه دی .	او صفت د انحراف چه دے صحیح دے په لام او په راء کښ
فِي اللَّامِ وَالرَّا وَبِتَكْرِیرٍ جُعِلْ	وَلِلتَّفَشِّي الشِّینُ وَالضَّادُ اسْتَطِلْ
او په صفت د تکرار سره بر ذکر زه وه	او صفت د تفشی شین له وه دے او استطال صفت د ضاد دے .

بَابُ التَّجْوِیدِ وَالتَّعْرِیفِ

وَالأَخْذُ بِالتَّجْوِیدِ حَتْمٌ لَازِمُ	مَنْ لَمْ یُجَوِّدِ الْقُرَاٰنَ فَهُوَ اٰثِمُ
زده کول د قران په تجوید سره فرض او لازم دی	هغه څوک چه زده نه کړي قران په تجوید سره هغه ګنهګار دے

(منظور عام پریس پېښاور)

از صفیر که د ننه المرق به لبین د مطبقو او منفتح د ګښې دا دے چه په وقت د ادا د مطبقو کښې ژبه پیوسته شي له پورته تالو سره او په وقت د ادا د منفتحو کښې ژبه خلاصه سے له پورته تالو نه . او فرق په مابین د منفتحو او مصمتو کښې دا دے چه مذلقه ادا کوي ژبې په جلتۍ سره له مخرج نه او مصمته ادا کیږي په تکلیف سره له مخرج نه ۱۲ مترجم

لِأَنَّهُ بِهِ الإِلٰهُ أَنْزَلَا	وَهٰكَذَا مِنْهُ إِلَیْنَا وَصَلَا
له دې وجه نه ګنهګار دے څوک چه قران په تجوید سره له طرفه د الله تعالی نه نازل شوے دے په نبي علیه السلام باندې	همدا رنګې په تجوید سره له نبي علیه السلام نه مونږ ته پیوست شوے دے په واسطه د استادانو سره
وَهُوَ أَیْضًا حِلْیَةُ التِّلَاوَةِ	وَزِینَةُ الأَدَاءِ وَالْقِرَاءَةِ
او د اتجوید همدا رنګې ګانړه د تلاوة د قران مجید دے او د تلاوة همیشګیری د په لوستو د قران پاک باندې	او بنائست د ادا د حروف د قران او د لوستو د قران دے او ادا اغستنه دی د استاد ماهر نه
وَهُوَ إِعْطَاءُ الْحُرُوفِ حَقَّهَا	مِنْ كُلِّ صِفَةٍ لَهَا وَمُسْتَحَقَّهَا
او تجوید چه دے ورکول دی حروفو له حق د حروفو	چه حق د حروفو صفات ذاتیه دی حروفو له لکه رخوت او استعلا شو یا امثال د دوی او ورکول دی حروفو له د مستحق د حروف او مستحق د حروفو صفات ذاتیه دی
وَرَدُّ كُلِّ وَاحِدٍ لِأَصْلِهِ	وَاللَّفْظُ فِي نَظِیرِهِ كَمِثْلِهِ
او تجوید رد د هر حرف د حروفو د پښتو اصل خپل د ته یعنی مخرج خپل ته یا یې معنی داده چه کلیمه جوړه وی له حروفو مختلفة الصفتونه نو د حرف رخویه دی رخوبت د ته او د شدید شدیت	او تلفظ په مثل د کلیمې تیری شوی کښې په مثل د کلیمې تیری شو به دے

سه یعنی ان القاری اذا قرأ الحرف بالتفخیم و یأتی من الحروف ثانیا یقرأ ایضا بالتفخیم واذا قرأ بالترقیق اولا یأتی من الحروف ثانیا یقرأ ایضا بالترقیق ثانیا ۱۲ مترجم

مُكَمِّلًا مِنْ غَيْرِ مَا تَكَلُّفِ ۔ بِاللُّطْفِ فِي النُّطْقِ بِلَا تَعَسُّفِ

كاملونكى دي قاري صفاتو مذكورو لره په دكولو نه په ځان باندې په زيادت سره لكه اوږدوي لام د الله زيات د قدر د حق

په نرمځي سره دوي قاري په تلفظ كښې بې مقصات نه په ادا كښې

وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ تَرْكِهِ ۔ إِلَّا رِيَاضَةُ امْرِئٍ بِفَكِّهِ

او نشته دي فرق په مابين د ذه كولو د تجويد كښې او د ترك د تجويد كښې ۔

مګر خو فايده د تجويد نه غم خوړلى د ځوان ده په زده كولو د خولې سره د استاذ نه ۔

فَرَقِّقَنْ مُسْتَفِلًا مِنْ أَحْرُفِ ۔ وَحَاذِرَنْ تَفْخِيمَ لَفْظِ الْأَلِفِ

پس باريك كړه مستفله له حروفو د پټنځو نه ۔

او ځان ساته د تفخيم د لفظ د الف نه چه راشي پس له حرفه مستفله نه او كه راشي پس د مستعليه نه خو بيا كوي تفخيم كښې دلي ځكه لازم د فتحې د ماقبل ده له وجه د جوړه د دينه په وجود د فتحې سره او عدم د دينه په عدم كيږه د فتحې سره ۔

وَهَمْزَ الْحَمْدُ أَعُوذُ اهْدِنَا ۔ اَللّٰهِ ثُمَّ لَامَ لِلّٰهِ لَنَا

او ځان ساته د تفخيم د همزه د الحمد او د اعوذ او د اهدنا او د الله له د وجه نه چه همزه د مستفله ده نو او تفخيم كولى شي په مستعليه دو كښې ۔

پس ځان ساته د پروت د الحي د لام د لله نه او د پروت د الحي د لام د لنا نه له د وجه نه چه لام د بين البين نه دے او تفخيم كولى شي په مستعليو كښې ۔

بيت: چه همزه د [illegible] په سر دي پروت [illegible] په وقت كښې باريك [illegible] ۔

وَلْيَتَلَطَّفْ وَعَلَى اللّٰهِ وَلَا الضَّالِّينَ ۔ وَالْمِيمَ مِنْ مَخْمَصَةٍ وَمِنْ مَرَضٍ

هم ځان ساته د پروت د الحي د لام د وليتلطف نه او د لام د على نه چه په على الله كښې دے او د لام د ولا الضالين نه هم لام ثاني د وليتلطف او د لام د على او د لام د ولا الضالين نه د دستور دينه پوري نو تحقيق ډكوي قاري چه پوره شي د الامونه په سبب ۔

او ځان ساته د تفخيم د ميم من مخمصة نه او ځان ساته د تفخيم د ميم د مرض نه له د وجه نه چه ميم د بين البين نه دے او تفخيم كولى شي په مستعليو كښې ۔

وَبَاءَ بَرْقٍ بَاطِلٍ بِهِمْ بِذِي ۔ وَاحْرِصْ عَلَى الشِّدَّةِ وَالْجَهْرِ الَّذِي

او ځان ساته د تفخيم د ب د برق نه او د ب د باطل نه او د ب د بهم نه او د ب د بذي نه له د وجه چه تفخيم كيږي په مستعليو كښې او ب نه دے د مستعليو نه ۔

او حارص او سه او حافظ او سه په صفت د شدت او په صفت د جهر باندې عنه شدت او جهر ۔

فِيهَا وَفِي الْجِيمِ كَحُبِّ الصَّبْرِ ۔ رَبْوَةٍ اجْتُثَّتْ وَحَجِّ الْفَجْرِ

چه په ب كښې او په جيم كښې دے مثال د ب لكه حب الصبر شو او د ربوة ن اجتثت شو ۔

او مثال د جيم لكه حج الفجر شو له وجه چه ب او ف يو دي په مخرج كښې او په باقي صفاتو كښې بې د دوو صفتو نه او جيم او شين يو دي په مخرج كښې او د دوو صفتو نه نو تحقيق ډكوي قاري په باريك والي د ب كښې چه ف لشي او په باريك والي

وَبَيِّنَنْ مُقَلْقَلًا إِنْ سَكَنَا ۔ وَإِنْ يَكُنْ فِي الْوَقْفِ كَانَ أَبْيَنَا

او ظاهره دي صفت د قلقلې په حروفو د قلقلې كښې چه ساكن وي د حروف د قلقلې په سكون لازمي سره ۔

او كه وه سكون د حروفو د قلقلې په وقف د قف كښې نو كيږي صفت د قلقلې ډېر ظاهر ۔

[illegible] تشديد او شين [illegible]

وَحَا مُحَصْحِصْ اَحَطْتُّ الْحَقُّ ‏ ‏ وَسِيْنِ مُسْتَقِيْمِ يَسْطُوْ يَسْقُوْا

اوظاهره وه حِ دحصحص او داحطت الحق او دالحق یعنی باریک یې لوله د پاره د دخبرې چه پوره نشي په سبب د مجاورت د حروفو د استعلا سره -

او ظاهره وه سین د مستقیم او د یسقو او د یسطو یعنی باریک یې لوله چه پړ نه شي په سبب د مجاورت د حروفو د استعلا سره -

فَصْلٌ فِيْ تَفْخِيْمِ الرَّاءِ وَتَرْقِيْقِهَا

وَرَقِّقِ الرَّاءَ اِذَا مَا كُسِرَتْ ‏ ‏ كَذَاكَ بَعْدَ الْكَسْرِ حَيْثُ سَكَنَتْ

او باریک لوله په هغه وقت کښې چه مکسوره وي پخوا له حرفه د استعلا نه

همدا رنګې باریکه لوله یې چه وي دا رپس د کسرې او په دغه وقت کښې ساکنه وي دا را دیاده پخوا له یې ساکې نه کسره اصلیه نو باریک لوستې شي دغه یې -

اِنْ لَمْ تَكُنْ مِنْ قَبْلِ حَرْفِ اسْتِعْلَا ‏ ‏ اَوْ كَانَتِ الْكَسْرَةُ لَيْسَتْ اَصْلَا

او که نو ه دا یې ساکنه چه پخوا ترینه مکسوره وه پخوا د حرفه د استعلا نه -

یا وه دا یې ساکنه چه پخوا ترینه کسره اصلیه وه نو باریکه لوستې شي دغه یې اصلا باک اثبات فجل ان النفي اذا دخل على النفي يفيد الا ثبات احد هلان لم تکن آه -

وَالْخُلْفُ فِيْ فِرْقٍ لِكَسْرٍ يُوْجَدُ ‏ ‏ وَاَخْفِ تَكْرِيْرًا اِذَا تُشَدَّدُ

او خلاف په تفخیم او په ترقیق د یې د فرق کښې له وجې د کسرې نه موندلے شو یدے -

سپک یې دا ئې او لې دوا یې تکریر د یې چه مشدد وي یې -

فَصْلٌ فِيْ تَفْخِيْمِ اللَّامِ

بیت: تکریر د هغه رکوه آهسته: بچه رخطے لغل پیر شل وي پیوسته ۱۲

وَفَخِّمِ اللَّامَ مِنِ اسْمِ اللّٰهِ ‏ ‏ عَنْ فَتْحٍ اَوْ ضَمٍّ كَعَبْدُ اللّٰهِ

او تفخیم کوه په لام د اسم د الله کښې -

په وقت د فتحې او د ضمې د ماقبل کښې لکه عبد الله شه -

وَحَرْفَ الْاِسْتِعْلَاءِ فَخِّمْ وَاخْصُصَا ‏ ‏ بِالْاِطْبَاقِ اَقْوٰى نَحْوُ قَالَ وَالْعَصَا

او تفخیم کولے شي په ټولو حروفو د استعلا کښې او خاص که له حروفو د استعلا نه په تفخیم سره -

حروف مطبقه چه ښه قوي وي لکه قال او عصا شو قال مثال د نفس مستعلیو دے او عصا مثال د مطبقو دے

وَبَيِّنِ الْاِطْبَاقَ مِنْ اَحَطْتُّ مَعْ ‏ ‏ بَسَطْتَّ وَالْخُلْفُ بِنَخْلُقْكُّمْ وَقَعْ

او ظاهره وه صفت د اطباق په ط د احطت کښې او په ط د بسطت کښې -

او خلاف په ظهره د صفت کښې چه قاف د نخلقکم کښې واقع شو یدے -

وَاحْرِصْ عَلَى السُّكُوْنِ فِيْ جَعَلْنَا ‏ ‏ اَنْعَمْتَ وَالْمَغْضُوْبِ مَعْ ضَلَلْنَا

او حارص او حافظ او سه په ادا د سکون باندې په لام د جعلنا کښې -

په نون او په میم د انعمت کښې او په لام او په غین او په واو د مغضوب کښې سره د لام د ظللنا نه -

ل یعنی ان فی ادغام القاف خلاف الکاف وقع الخلاف في کمال ولقصان دفي ادغام الکاف في القاف وقع الخلاف في نفسه ۱۲ مترجم

وَخَلِّصْ انْفِتَاحَ مَحْذُورًا عَسَى	خَوْفَ اشْتِبَاهِهِ بِمَحْظُورٍ عَصَى
اوخلاص وايه او ظاهروايه صفت دانفتاح په ذال دمحذور کښې او په سين دعسى کښې -	له وجهے داشتباه د ذال دمحذور او دسين دعسى نه په ظ د محظور او په صاد د عصى باندې -
وَرَاعِ شِدَّةً بِكَافٍ وَبِتَا	كَشِرْكِكُمْ وَتَتَوَفَّى فِتْنَتَا
او رعايت دکوى قاريه د صفت د شدت په كاف او په ت کښې -	مثال دکاف لکه شرككم شه او مثال دت لکه تتوفى او فتنتا شو -

فَصْلٌ فِي إِدْغَامِ الْمِثْلَيْنِ وَالْمُتَجَانِسَيْنِ

وَأَوَّلَيْ مِثْلٍ وَجِنْسٍ إِنْ سَكَنْ	أَدْغِمْ كَقُلْ رَبِّ وَبَلْ لَا وَأَبِنْ
اول حرفونو مثل واحد يا دجنس نو چه ساكن وى -	مدغم وه ساكن په متحرک کښې مثال دجنسينو لکه قل رب شو او مثال دمثلينو لکه بل لا شو او ظاهر وه ساكن د مثل واحد او دجنس واحد -
فِي يَوْمِ مَعْ قَالُوا وَهُمْ وَقُلْ نَعَمْ	سَبِّحْهُ لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا فَالْتَقَمْ
په يىٔ د فى يوم کښې سره دواو د قالوا او دهم نه او دلام د قل نعم نه	او ظاهر وه سكون دح د سبحه او دغين د لا تزغ قلوبنا او دلام د فالتقم نه -

ے۱ لان كلا لهما صفة الشدة كذلك لهما صفة الهمس والشدة قوى والهمس ضعيف فرعاية القوى اولى لان القوى يجذب الضعيف لا بعكسه ۱۲

ے۲ اما الاظهار فى ياء يوم وواو قالوا وهم لعدم جواز الادغام بسبب قوة مد الاصلى واما فى لام قل نعم فللالتباس بادغام المضاعف واما فى حاء سبحه لان ادغام بعض حروف الحلق فى البعض ثقيل ولان الحاء اعلى والهاء اسفل قياسا بقيام الرجل وادغام الاعلى فى الاسفل لا يجوز واما فى غين لا تزغ قلوبنا ولام فالتقم لا يجوز الادغام لبعد المخرج ۱۲ مترجم ۱۲

وَالضَّادَ بِاسْتِطَالَةٍ وَمَخْرَجِ	مَيِّزْ مِنَ الظَّاءِ وَكُلُّهَا تَجِي
او ضاد په صفت د استطالت سره او په ادا سره په مخرج کښې -	جدا کوه له ظ نه او ټول لغات د ظ چه نازل کړے شوى دى خداى پاک په قرآن کښې او دا بيشه په ابياتو اخير ته کښې -
فِي الظَّعْنِ ظِلِّ الظُّهْرِ عُظْمِ الْحِفْظِ	أَيْقِظْ وَأَنْظِرْ عَظْمِ ظَهْرِ اللَّفْظِ
هغه ابيات آينده چه لغات دظ پکښې داخل دى هغه دا دى -	
ظَاهِرْ لَظَى شُوَاظِ كَظْمٍ ظَلَمَا	اُغْلُظْ ظَلَامٍ ظُفُرٍ انْتَظِرْ ظَمَا
أَظْفَرَ ظَنًّا كَيْفَ جَا وَعْظٍ سِوَى	عِضِينَ ظَلَّ النَّحْلِ زُخْرُفٍ سَوَا
لغات من كوه سره له اظفر او د ظنا نه په هر ځاى کښې چه راشى په ظ سره دى او لفظ د وعظ په ظ سره دے بے د لفظ د عضين نه چه په ضاد سره دے -	او لفظ د ظل په سورة نحل کښې او په سورة زخرف کښې برابر دى يعنى دواړه په ظ سره دى -

وَظَلْتَ ظَلْتُمْ وَبِرُومٍ ظَلُّوا	**كَالْحِجْرِ ظَلْتُ شُعَرا نَظَلُّ**
او لفظ د ظلت او د ظلتم په ظ سره دے او په سورة روم کښې لفظ د ظلو په ظ سره دے -	لکه چه په سورة حجر کښې چه کلیمه د ظلت په ظ سره ده او لکه چه په سورة شعرا کښې چه کلیمه چه د نظل په ظ سره ده -
إِلَّا بِوَيْلٍ هَلْ وَأُولَى نَاضِرَةْ	**وَالْغَيْظُ لَا الرَّعْدُ وَهُودٌ قَاصِرَةْ**
مگر نه دے لفظ د نظرے په ظ سره په سورة ویل کښې او په سورة دهر کښې او په اول د سورة قیامه کښې او نه دے ناضرة په ظ سره بلکه په ضاد سره دے	او لفظ د غیظ په ظ سره دے او نه دے غیض په ظ سره په سورة رعد کښې او په سورة هود کښې او د قاصرة معنے دا ده چه لفظ د غیض په ضاد سره دے خاص په سورة رعد او په سورة هود کښې -
وَالْحَظُّ لَا الْحَضُّ عَلَى الطَّعَامِ	**وَفِي ضَنِينٍ الْخِلَافُ سَامِي**
او لفظ د حظ په ظ سره دے او نه دے هغه لفظ د حض په ظ سره چه پیوست دے د طعام سره -	او په لفظ د ضنین کښې خلاف مشهور دے بعضے وائی په ظ سره دے او بعضے وائی په ضاد سره دے -
وَإِنْ تَلَاقَيَا الْبَيَانُ لَازِمُ	**أَنْقَضَ ظَهْرَكَ يَعَضُّ الظَّالِمُ**
او که ملاقی شو ضاد او ظ یو د بل سره چه نوه فاصل په مینځ کښې نو اظهار لازم دے په تا باندے -	او مثال د ملاقات لکه انقض ظهرک او یعض الظالم شو -

فَصْلٌ فِي غُنَّةِ الْوَاجِبِ

وَاضْطُرَّ مَعْ وَعَظْتَ مَعْ أَفَضْتُمُ	**وَصَفِّهَا جِبَاهُهُمْ عَلَيْهِمُ**
او واضحه کوه ضاد د واضطر د پاره د دغه خبرے چه د طاء نشی او واضحه کوه ظ د وعظت چه د تاء نشی او واضحه کوه ضاد د افضتم چه افتم نشی -	او واضحه کوه الف او هاء د جباههم د پاره د دے چه جبهم او جبتهم نشی او واضحه کوه یاء د علیهم د پاره د دے چه علهم نشی
وَأَظْهِرِ الْغُنَّةَ مِنْ نُونٍ وَمِنْ	**مِيمٍ إِذَا مَا شُدِّدَا وَأَخْفِيَنْ**
او ظاهره وه غنه له نون او له میم نه -	هغه میم او نون چه مشدد وی او اخفا کوه -
الْمِيمَ إِنْ تَسْكُنْ بِغُنَّةٍ لَدَى	**بَاءٍ عَلَى الْمُخْتَارِ مِنْ أَهْلِ الْأَدَا**
په هغه میم کښې چه ساکن وی سره د غونے نه په نیز د ماقبل د میم ساکن له ب سره	له ب سره په قول د مختار باندے له اهل اداء نه -
وَأَظْهِرَنْهَا عِنْدَ بَاقِي الْأَحْرُفِ	**وَاحْذَرْ لَدَى وَاوٍ وَفَا أَنْ تَخْتَفِي**
او اظهار کوه د میم ساکن په نیز د باقی حروفو باندے -	او ځان ساته په میم ساکن کښې په نیز د واو او د ف له اخفا نه بلکه اظهار کوه خامخا -

فَصْلٌ فِي حُكْمِ نُونِ السَّاكِنَةِ وَالتَّنْوِينِ

وَحُكْمُ تَنْوِينٍ وَنُونٍ يُلْفَى	إِظْهَارُ ادْغَامٌ وَقَلْبُ اِخْفَا
او حکم دتنوین او د نون ساکن موندلے شو یدے ۔	هغه حکم څه دےچه اظهار دے او ادغام دے او قلب دے او اخفاده
فَعِنْدَ حُرُوفِ الْحَلْقِ أَظْهِرْ وَادَّغِمْ	فِي اللَّامِ وَالرَّاءِ لَا بِغُنَّةٍ لَزِمْ
نو پس په نزد حروفو حلقیو اظهار کوه تنوین او د نون ساکن او ادغام کوه د تنوین د نون ساکن ۔	په لام او په ر کښ نه په غونے سره هرګز او لفظ د لزم زیاتی دے ۔

فَصْلٌ فِي الْإِدْغَامِ مَعَ الْغُنَّةِ

وَادَّغِمَنْ بِغُنَّةٍ فِي يُومِنْ	إِلَّا بِكِلْمَةٍ كَالدُّنْيَا عَنْوَنُوا
او ادغام کوه د تنوین ساکن سره له غونے نه په حروفو د یمنو کښ ۔	مګر خو نشته دے ادغام د نون ساکن په نزد حروفو د یرملون چه دی نون ساکن او حروف دیرملون په یوه کلیمه کښ د پاره د دخبری چه التباس رانشی د مضاعفو سره ۔
وَالْقَلْبُ عِنْدَ الْبَاءِ بِغُنَّةٍ كَذَا	الْإِخْفَاءُ لَدَى بَاقِي الْحُرُوفِ أُخِذَا
او قلب د تنوین او د نون ساکن دے په میم باندِ په نزد ب باندِ سره د غونے نه هم داسې ۔	او خلورم حکم د تنوین او د نون ساکن اخفاده په نزد د باقی حروفو د پښتو او عمل شو بدے پدِ باندِ

وَالْمَدُّ لَازِمٌ وَوَاجِبٌ أَتَى	وَجَائِزٌ وَهُوَ وَقَصْرٌ ثَبَتَا
یو مد لازم دے او یو مد واجب دے چه راغلی دے په قران کښ ۔	او یو مد جائز دے او دا مد جائز چه دے قصر ثابت دے پدِ کښ
فَلَازِمٌ إِنْ جَاءَ بَعْدَ حَرْفِ مَدْ	سَاكِنُ حَالَيْنِ وَبِالطُّولِ يُمَدْ
مد لازمه دا دے چه راشی پس له حرف مده نه ۔	حرف ساکنه په دواړه حاله کښ چه یو حال د وقف دے او یو حال د وصل دے نو په طول سره مد کولے شی پدِ کښ نه په توسط او په قصر سره یعنی په کم د د پالفونه کښی مد حرا دے
وَوَاجِبٌ إِنْ جَاءَ قَبْلَ هَمْزَةٍ	مُتَّصِلًا إِنْ جُمِعَا بِكِلْمَةٍ
او مد واجبه د یته وائی چه راشی مده پخوا له همزه نه ۔	متصل په همزه پوری د د معنی داده چه جمعه شی مد او همزه په یوه کلیمه کښ ۔
وَجَائِزٌ إِذَا أَتَى مُنْفَصِلًا	أَوْ عَرَضَ السُّكُونُ وَقْفًا مُسْجَلًا
او مد جائزه دا دے چه راشی مد پخوا له همزه نه منفصل یعنی مد په یوه کلیمه کښ وی او همزه په بله کلیمه کښ وی	او یا مد جائزه دا دے چه وراندِ شی مد ته حرف ساکنه په حال د وقف کښ مطلق ۔

فَصْلٌ فِي الْوَقْفِ وَالْإِبْتِدَاءِ

وَبَعْدَ تَجْوِيدِكَ لِلْحُرُوفِ	لَابُدَّ مِنْ مَعْرِفَةِ الْوُقُوفِ
او پس دکره کولو ستا نه اے مخاطبه حروفو د پښتئ لره ـ	لابدی ده پیژن گلئ د وقوفونه په اسکان په روم په اشمام سره ـ
وَالْاِبْتِدَاءُ وَهِيَ تُقْسَمُ اِذَنْ	ثَلَاثَةٌ تَامٌ وَكَافٍ وَحَسَنْ
او لابدی ده پیژن گلئ دځائ دابتدا نه یعنے هغه ځائے چه ابتدا روادی د هغے نه پس له وقف نه	د دریو اقسامو ته چه یو وقف تام دے او یو وقف کافی دے او یو وقف حسن دے ـ
وَهِيَ لِمَا تَمَّ فَاِنْ لَمْ يُوجَدَا	تَعَلُّقٌ اَوْ كَانَ مَعْنًى فَابْتَدِا
او دا وقف اختیار دعا چه دے نوم دے هغه وقف لره چه تام دے یعنے نوم دے د دریو ووقفونو لره او که نوه دِ مابعد د ماقبل سره نه لفظا او نه معنیً ـ	تعلق او یا وه د مابعد د ماقبل سره تعلق معنیً نه لفظا نو شروع کوه ته یعنے روا ده شروع تا لره په دغه ځایے کښ ـ
فَالتَّامُ فَالْكَافِي وَلَفْظًا فَامْنَعَنْ	اِلَّا رُؤُسَ الْآيِ جَوِّزْ فَالْحَسَنْ
نو اول چه نه د مابعد د ماقبل سره تعلق لفظا وی او نه معنًا وی وقف تام دے او ثانی چه د مابعد د ماقبل سره تعلق معنے وی نه لفظا وقف کافی دا دے کړ مابعد د ماقبل سره تعلق لفظا وه نو معنے نو هغه دے وقف تا لره په هغه ځایے کښ ـ	مگر په سرونو د ایاتونو کښ چه تعلق د مابعد د ماقبل سره لفظا او معنا وی او یا لفظا وی روا ده وقف تا لره وجه د فعل د نبی علیه السلام نو چه هغه یو ځل وقف کړ یدے په ټولو ایاتونو کښ د پاره د تعلیم نو دا دریم قسم وقف حسن دے ـ وله موضعان وسط الآية كالحمد و اخر الآية كرب العلمين وحكمان وهما الجواز والمنع فالجواز في اخر الآية والمنع في وسط الآية ۱۲

لے چه تعلق لفظا او معنًا دواړه نوی لکه د اقول دخیل تعالی قسمه اولئك هم المفلحون ان الذين كفروا او چه تعلق معنی وی او لفظا نوی لکه د اقول دخیل تعالی ... او د او وقف اختیاری منقسم کړے شی ... ۱۲

وَغَيْرُ مَا تَمَّ قَبِيحٌ وَلَهُ	يُوقَفُ مُضْطَرًّا وَيُبْدَا قَبْلَهُ
او په غیر د دِ دریو قسمو د وقفونو نه قبیح دے وقف روا دے قاری لره	چه وقف اضطراری به کوی په هغه ځایے کښ چه تعلق د مابعد د ماقبل سره لفظا وی فقط او ابتدا د کوی پخوا له موقوف علیه نه ـ
وَلَيْسَ فِي الْقُرْاٰنِ مِنْ وَقْفٍ وَجَبْ	وَلَا حَرَامٍ غَيْرَ مَا لَهُ سَبَبْ
او نشته دے په قرآن کښ وقف واجبه چه گنهگار شی قاری په ترک د هغے د باندی	او نیشته دے په قران کښ وقف حرام چه گنهگار شی قاری په کولو د هغے سره پغیر له هغے وقف واجب او وقف حرام نه چه هغو لره سبب د وجوب او سبب د ...
وَاعْرِفْ لِمَقْطُوعٍ وَمَوْصُولٍ وَتَا	فِي مُصْحَفِ الْاِمَامِ فِيمَا قَدْ اَتٰى
او او پیژنه اے مخاطبه مقطوع کلیمے لره او موصول کلیمے لره او تِ د تانیث مطول لره ـ	چه په هغه مصحف کښ دے چه امام د مصاحفو دے یعنے چه لیکلے دے عثمان غنی رض او او پیژنه هغه مقطوع او موصول او تِ د تانیث چه په تحقیق سره راغلی دے په مصحف د عثمان رض کښ
فَاقْطَعْ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ اَنْ لَا	مَعْ مَلْجَأٍ وَاَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا
او مقطوع لیکلی دے په لسو کلیمو کښ اَنْ د لام نه یعنے جدا لیکلی دے اَنْ د لام نه	اول هغه ان لا دے چه سره د هغه نه کلیمه د ملجا ده او ثانی هغه ان لا دے چه سره د هغه نه کلیمه د لا اله الا هو ده په سورة هود کښ

حرمت موجود وی په قرآن کښ ۱۲

وَتَعْبُدُوا الْيٰسِيْن ثَانِيْ هُوْد اَنْ لاَّ

او ثالث هغه ان لا دے چه د هغه نه کلیمه د تعبد الشیطان ده په سورة یٰس کښې او رابع هغه ان لا تعبدوا دے چه دویم دے په سورة هود کښې -

يُشْرِكْنَ تُشْرِكْ يَدْخُلَنَّ تَعْلُوْا عَلٰى

او خامس هغه ان لا دے چه سره د هغه نه کلیمه د یشرکن ده او سادس هغه ان لا دے چه سره د هغه نه کلیمه د تشرک ده او سابع هغه ان لا دے چه د هغه نه کلیمه د یدخلن ده او ثامن هغه ان لا دے چه سره د هغه

اَنْ لاَّ يَقُوْلُوْا اَنْ لاَّ اَقُوْلَ اِنْ مَّا

او تاسع ان لا یقولوا دے او عاشر ان لا اقول دے او دا دواړه مثالونه په سورة اعراف کښې دی او کلیمه د ان مقطوع لیکلے شی د مانه -

لِرَّعْدِ وَالْمَفْتُوْحَ صِلْ وَعَنْ مَّا

په سورة رعد کښې او اما په فتحے د همزه سره موصول دے همیشه یعنی په ټول قران کښې او عن مقطوع لیکلے شی د مانه هغه ما چه سره د هغه نه کلیمه د نهوا ده په سورة اعراف کښې -

هُوْا اقْطَعُوْا مِنْ مَّا مَلَكَتْ رُوْمِ النِّسَا

او مقطوع لیکلے شی کلیمه د من له مانه هغه ما چه سره د هغه نه کلیمه د ملکت ایمانکم ده په سورة روم کښې او په سورة نساء کښې -

خُلْفُ الْمُنَافِقِيْنَ اَمْ مَّنْ اَسَّسَا

او خلاف د قراء و دے په هغه من ما کښې چه په سورة منافقون کښې دے په بعض مصاحفو کښې مقطوع لیکلے شی او په بعض کښې موصول لیکلے شی او ام مقطوع لیکلے شی د من نه هغه من چه سره د هغه نه کلیمه د اسّساد په سورة توبه کښې -

فُصِّلَتْ النِّسَاءُ وَذِبْحُ حَيْثُ مَا

او په سورة فصلت کښې او په سورة نساء کښې او په سورة والصّٰفّٰت کښې او کلیمه د حیث مقطوع لیکلے شی د مانه همیشه

وَاَنْ لَّمْ الْمَفْتُوْحَ كَسْرُ اِنْ مَا

او ان مقطوع لیکلے شی د لم نه چه مفتوح دی همزه د ان او ان مشدد چه مکسور دی همزه مقطوع لیکلے شی د مانه -

الْاَنْعَامِ وَالْمَفْتُوْحَ يَدْعُوْنَ مَعًا

او په سورة انعام دے او ان مشدد چه همزه یے مفتوح دی او مقطوع لیکلے شی د مانه هغه د چه کلیمه د یدعون ورپسی ده چه هغه دوه ځایه دی چه یو سورة حج دے او یو سورة لقمان دے

وَخُلْفُ الْاَنْفَالِ وَنَحْلٍ وَّقَعَا

او خلاف په مقطوعیت او په موصولیت د ان مشدد کښې چه همزه یے مکسور دی او ان مشدد کښې چه همزه مفتوح وی لکه په سورة انفال کښې د مانه یعنی مقطوع لیکلے شی نون مشدد د ما نه او موصول لیکلے شی نون مشدد د ما سره په سورة

انفال او په سورة نحل کښې [illegible]

وَكُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ وَاخْتُلِفْ

او کلیمه د کل مقطوع ده له مانه هغه ما چه ما چه کلیمه د سالتموه پے ورپسے ده او خلاف دے په موصولیت او په مقطوعیت د کل کښې د ما او د ما سره هغه ما چه کلیمه د ردوا ورپسی ده

رُدُّوْا كَذَا قُلْ بِئْسَمَا وَالْوَصْلُ صِفْ

او همدا رنګه خلاف دے په مقطوعیت او په موصولیت د بئس کښې له مانه او له ما سره او وصل وصفی یعنی وصل د بئس له ما سره اتفاقی دے هغه ما چه ورستو ترے کلیمه د خلفتمونی راغلی ده او هغه ما چه ورستو ترے کلیمه د اشتروا راغلی ده

خَلَفْتُمُوْنِيْ وَاشْتَرَوْا فِيْمَا اقْطَعَا

او کلیمه د فی مقطوع ده له ما نه په یوولس ځایه کښې او بے د هغه یوولسو ځایونو نه هغه فیما دے په وصل سره -

اُوْحِيَ اَفَضْتُمْ وَاشْتَهَتْ يَبْلُوْا مَعًا

چه کلیمه د اوحی پسی راغلی ده او ثانی هغه دے چه کلیمه د افضتم پسی راغلی ده او ثالث هغه دے چه کلیمه د اشتهت پسی راغلی ده او رابع هغه دے چه کلیمه د یبلو ورپسے راغلی ده

په دوو ځایونو کښې

ثَانِيْ فَعَلْنَ وَقَعَتْ رُوْمٍ كِلَا

او سادس دویم فیما د سورة بقرې دے چه کلیمه د فعلن ورپسی راغلی ده او سابع په سورة واقعه کښې دے او ثامن په سورة روم کښې دے او دوه ځایه په سورة تنزیل کښې دے -

تَنْزِيْلُ شُعَرَا وَغَيْرَ ذِيْ صِلَا

او یوولسم فیما په سورة شعراء کښې دے او په غیر د یوولسو ځایونو نه فی موصول له ما سره په ټول قران شریف کښې

فَلَئِنْمَا کَالنَّحْلِ صِلْ وَمُخْتَلِفْ	فِي شُعَرَ الْأَحْزَابِ وَالنِّسَاءِ وُصِفْ
اوکلیمه داین دماسره په سورة بقر کښ په شان د سورة نحل موصوله ده بے دخلاف نه او خلاف ئے په مقطوعیت او په موصولیت د این کښ دماسره او دمانه په بعضو مصاحفو کښ مقطوع لیکلے شی او په بعضو کښ موصول لیکلے شی -	په سورة شعراء او په سورة احزاب او په سورة نساء د صفیته داخلاف ذکر کړیں ے اهل رسم -
وَصِلْ فَاِنْ لَمْ هُوْدَ اَلَّنْ نَجْعَلَا	نَجْمَعَ كَيْلَا تَحْزَنُوْا تَاْسَوْا عَلَا
او موصول ئے دی ان دلم سره په سورة هود کښ یعنی نه شی لیکلے نون په مینځ دهمزے او د لام کښ او موصول ئے دی ان دلن سره یعنی نشے لیکلے نون په مینځ دهمزه او دلن کښ هغه لن چه کلیمه د نجعل ورسره ده او هغه لن چه کلیمه د نجمع ورسره په سورة کهف	او په سورة قیامه کښ او موصول ده کلیمه د کے کے دلام سره په څلورو ځایونو کښ اول هغه دے چه کلیمه د تحزنوا ورپسی ده او ثالث هغه دے چه کلیمه د تاسوا علی ورپسی ده په سورة حدید او په سورة عمران کښ -
وَبَاْلحَجِّ عَلَيْكَ حَرَجٌ وَقَطْعُهُمْ	عَنْ مَّنْ يَّشَاءُ مَنْ تَوَلّٰى يَوْمَ هُمْ
او ثالث هغه دے چه کلیمه د یعلم من بعد ورپسی ده په سورة حج کښ او رابع هغه دے چه کلیمه د یکون علیک حرج ورپسی ده په سورة احزاب کښ او په غیر د دے څلورو ځایونو نه کلیمه د کی جدا لیکلے شی لام نه او	مقطوع لیکلے شی عن د من نه هغه من چه کلیمه د یشاء ورپسی ده او مقطوع لیکلے شی عن د من نه هغه من چه کلیمه د تولی ورپسی ده - او مقطوع لیکلے شی کلیمه د یوم د هم نه -
وَمَالِ هٰذَا وَالَّذِيْنَ هٰؤُلَا	تَحِيْنَ فِي الْإِمَامِ صِلْ وَقِيْلَ لَا
او مقطوع ئے د مال دمدخوله څخه نه په څلورو ځایونو کښ اول مال هذا الکتاب دی او دویم مال هذا الرسول دی او دریم فمال الذین کفروا دی او څلورم فمال	هٰؤلاء القوم دی او ت د حین سره په مصحف د امام کښ موصول ده او څوک وائی موصول نه دی -

اَوْ وَّزَنُوْهُمْ وَكَالُوْهُمْ صِلْ	كَذَا مِنْ اَلِ وَهَا وَيَا لَا تَفْصِلْ
او نو د وزنو او لو د کالو موصول دے له هم سره -	او همدا رنګ لام تعریفی او ها تنبیه او یاء ندائیه جدا ندی له مدخوله خپله نه بلکه پیوست دے -
وَرَحْمَتُ الزُّخْرُفِ بِالتَّاءِ زَبَرَهْ	الْاَعْرَافِ هُوْدِ رُوْمِ كَافِ الْبَقَرَهْ
او رحمت لفظ په سورة زخرف کښ په ت طولانی سره دے په دوه ځایه کښ اول دا دے اهم یقسمون رحمت ربك او دوهم دا دے ورحمت ربك خیر مما یجمعون ۵ -	او یو په سورة اعراف کښ دے او یو په سورة روم کښ دے او یو په سورة هود کښ دے او یو په سورة مریم کښ دے او یو په سورة بقره کښ دے - ۵
نِعْمَتُهَا ثَلَاثُ نَحْلِ اِبْرَهَمْ	مَعًا اَخِيْرَاتٌ عُقُوْدُ الثَّانِ هَمْ
نعمت لفظ په ت طولانی سره په یولس ځایونو کښ دے یو په سورة بقره کښ دے واذکروا نعمت الله علیکم او دری ځایه په سورة نحل کښ دے وبنعمت الله هم یکفرون ۵ و یعرفون نعمت الله و اشکروا نعمت الله او دوه ځایه په سورة ابراهیم کښ ئے هغه دا دے بدلوا نعمت الله کفرا و ان تعدوا نعمت الله لا تحصوها -	په اخیر د سورة ابراهیم او د سورة نحل کښ دے او بل ثانی د سورة عقود کښ دے چه لفظ د همّ ورسره دے هغه دا دے واذکروا نعمت الله علیکم اذ هم قوم -
لُقْمَانُ ثُمَّ فَاطِرٌ كَالطُّوْرِ	عِمْرَانَ لَعْنَتَ بِهَا وَالنُّوْرِ
او یو په سورة لقمان کښ ئے هغه دا دے فی البحر بنعمت الله او یو په سورة فاطر کښ دے هغه دا دے یا ایها الناس اذکروا نعمت الله او یو په سورة طور کښ دے فما انت بنعمت ربک -	او یو په سورة عمران کښ هغه دا دے واذکروا نعمت الله علیکم اذ کنتم - و هرچه در قرآن از لفظ نعمت جز این یازده موضع مذکور شده بها گرده مرسوم آمده -

او مصنف رح تو تعبیر کړے دے په کاف سره له د دے وجه نه چه په مرکښ یے کاف دے - اللهم اغفر لکاتبه ۱۲

وَامْرَأَتٌ يُوسُفَ عِمْرَانَ الْقَصَصُ ۔ تَحْرِيمٍ مَعْصِيَةٌ فَقَدْ سَمِعَ يَخُصُّ

اولفظ دو امرأة او وه ځايه په تِ طولاني سره دي دوه ځايه په سورة يوسف كښې دي امرأت العزيز تراود د وامرأت العزيز الآن او يو ځاي په سورة عمران كښې دي اذ قالت امرأت عمران او يو ځاي په سورة قصص كښې دي قالت امرأت فرعون قرة ا ه

او در ځايه په سورة تحريم كښې دي او امرأت نوح و امرأت لوط وامرأت فرعون او معصيت لفظ په تِ طولاني سره دي فقد سمع سيپاره پورې خاص دېم او دا دوه ځايه دي په سورة مجادله كښې ويتناجون بالاثم والعدوان ومعصيت الرسول فلا تتناجوا بالاثم والعدوان

شَجَرَتُ الدُّخَانِ وَسُنَّتُ فَاطِرٍ ۔ كُلًّا وَالْأَنْفَالِ وَأُخْرَىٰ غَافِرٍ

او شجرت لفظ په تِ طولاني سره په ټول قران كښې يو ځاي دي په سورة دخان كښې ان شجرت الزقوم طعام الاثيم او سنت لفظ په سورة فاطر كښې درې ځايه دي اول الاسنت الاولين ط

او د ويمو لسنت الله تبديلا او د ريم د لسنت الله تحويلا او يو په سوره انفال كښې سنت الاولين دي او بل په سورة غافر كښې دي سنت الله التي او بې له دې ځايونو نه لفظ د سنت په ټول قران كښې ته مدوره سره دي

قُرَّتُ عَيْنٍ جَنَّتُ فِي وَقَعَتْ ۔ فِطْرَتُ بَقِيَّتُ وَابْنَتُ وَكَلِمَتُ

او لفظ د قرة عين لي په تِ طولاني سره په سورة قصص كښې دي او لفظ د جنت نعيم په تِ طولاني سره په سورة واقعه كښې دي

او فطرت الله التي په تِ طولاني سره په سورة روم كښې دي بقيت الله خير لكم په تِ طولاني سره په سورة هود كښې دي ومريم ابنت عمران په تِ طولاني سره په سورة تحريم كښې دي

وَسْطَ الْأَعْرَافِ كُلُّهَا وَاخْتُلِفَ ۔ جَمْعًا وَفَرْدًا فِيهِ بِالتَّاءِ عُرِفَ

په مينځ د سورة اعراف كښې تمت كلمت ربك الحسنى دا القرة نه د كلمت پورې د صيغ هذ الكلمات خلافية من حيث الجمع والفرد ۔ شپږ الفاظ په تِ مطول سره ليكلې شويدي او هر هغه لفظ چه خلاف دي په هغې الفاظو كښې ۔

له وجه د جمعيت او د فرديت د صيغې د دغې الفاظو نه يعنې بعضې لولي په صيغې د جمع سره او بعضې لولي په صيغې د مفرد سره ۔ طريقه رسم وكتابت او بتاء مطوله معروف ست ۔

فَصْلٌ فِي هَمْزَةِ الْوَصْلِ

وَابْدَأْ بِهَمْزَةِ الْوَصْلِ مِنْ فِعْلٍ بِضَمٍّ ۔ إِنْ كَانَ ثَالِثٌ مِنَ الْفِعْلِ يُضَمُّ

او شروع كوه په همزه وصلي باندې چه راشي په سر د كليمې د فعل كښې نو شروع ېركوه په ضمې سره يعنې كرزوه يې مضموم

په شرط د دې خبرې سره كوو د حرف ثالث د فعل چه عين كليمې دي ده مضموم

وَاكْسِرْهُ حَالَ الْكَسْرِ وَالْفَتْحِ وَفِي ۔ الْأَسْمَاءِ غَيْرِ اللَّامِ كَسْرُهَا وَفِي

او مكسور كه همزه وصلي په حال د كسرې او د فتحې د حروف ثالث د فعل كښې چه عين كليمه ده ۔

او همزه وصلي چه راشي په اول د كليمې د اسماؤ كښې چه د غه اسما په غير د لام تعريفي نوي يعني نوي لام تعريفي په اول د دغه اسماؤ كښې نو حكم د دغه همزه وصلي كسره ده ۔

ابْنٍ مَعَ ابْنَتِ امْرِئٍ وَاثْنَيْنِ ۔ وَامْرَأَةٍ وَاسْمٍ مَعَ اثْنَتَيْنِ

او همزه وصلي په دې ټولو اسماؤ كښې چه د ابن نه دي تر اخره پورې مكسور دي ۔

فَصْلُ الرَّوْمِ وَالْإِشْمَامِ

وَحَاذِرِ الْوَقْفَ بِكُلِّ الْحَرَكَةِ ۔ إِلَّا إِذَا رُمْتَ فَبَعْضُ الْحَرَكَةِ


او ځان ساته په حالت د وقف كښې له كل حركت نه ۔

لكن د و مره خبره ده په هغې وقت كښې چه ته وقف كوې په روم سره نو را تلې كوه په بعض حركت سره ۔

له فان قيد ما الفرق بين الفتح والضم ان في حال الضم حرف الثالث يجعل همزة الوصل مضموما وفي حال الفتح لا يجعل مفتوحا قلنا لان الفتحة من الحركات الخفيفة با التلفظ فا التلفظ بكسرة الهمزة عند فتحة حرف الثالث ليس متصل فلهذا لا يجعل الهمزة مفتوحا عند فتحة حرف الثالث يا قلنا لان الاصل في تحريك الساكن التحريك بالكسر لان الساكن اذا حرك حرك بالكسر ولا يصير من الاصل الا عند الضرورة والضرورة ثابت في الضمة لان الضمة من الحركات الثقيلة بالتلفظ فالتلفظ بكسر الهمزة عند ضمة حرف الثالث ثقيل فلهذا يجعل الهمزة مضموما ١٢

اِلَّا بِفَتْحٍ اَوْ بِنَصْبٍ وَّاَشِمْ	اِشَارَةً بِالضَّمِّ فِيْ رَفْعٍ وَّضَمْ
مګر خو روا ندے روم په فتحے او په نصب کښې او اشمام چه دے	اشارت دے په ضم د شفیتنو سره حرکت په رفعه او په ضمه کښې ـ
اَبْيَاتُهَا قَافٌ وَّزَاىٌ فِي الْعَدَدِ	مَنْ يُّتْقِنِ التَّجْوِيْدَ يَظْفَرْ بِالرَّشَدِ
بیتونه د دمقدمې چه دی قاف او زِدی په شمار د ابجد وکښې او په شمار د ابجد کښې قاف سل دے او زا اوه دے یعنې مجموعه شپ یُ اوه د پاسه سل شه ـ	هغه څوک چه زده کوی قران په تجوید سره نو برے به بیا مومی په زیرکئ سره ـ
وَقَدْ تَقَضّٰى نَظْمِيَ الْمُقَدِّمَةْ	مِنِّيْ لِقَارِي الْقُرْاٰنِ تَقْدِمَةْ
او په تحقیق سره تمام ته ورسید نظم دمقدمې ځما	ځمانه قاری د قران لره یو تحفه پر یخودَه ما ـ
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لَهَا خِتَامُ	ثُمَّ الصَّلٰوةُ بَعْدُ وَالسَّلَامُ
ثنا ده خدائے لره چه خاص دپاره د مقدمے ختم کیده دی	بیا دِ درود دوی و دستو د ثنانه او سلام دوی ـ

عَلَى النَّبِيِّ وَصَحْبِهٖ وَاٰلِهٖ	وَتَابِعِيْ سُنَّتِهٖ وَمَنْوَالِهٖ
په پیغمبر علیه السلام بانِد او په ملګرو او په تابعدارانو د ده	په تابعدارانو د لاری مستو نه او د مهربانو د ده ـ



پس د ثنا د خدائ پاک نه او پس له درود نه په نبی علیه السلامُ بانِد ایز ده کره د اخبره چه مد په لغت کښې مطلق او ږدوالي ته ویلے شی او په اصطلاح د قاریانو کښې اوږدوالی دَصوت دے په حرف مدة بانِد او دا مد بیا په پنځه قسمه دے یو مد قصر دے او دویَم مد طویل دے او دریَم مد لازمی دے او څلورم مد عارضی دے او پنځم مد لین دے مد قصر دینه وائ چه واو ساکن وی او ماقبل تر ضمه وی یا یا ساکنه وی او ماقبل تر کسره وی یا الف وی او ماقبل ترِ فتحه وی الف همیشه ساکن وی او بل حرف پرِ و لا ریږی نو پدِ کښې مد کول واجب دی په قدر دَ یو الف بانِد مثال به یے څنګه وی لکه نُوْحِيْهَا شه او سبب مد طویل دوه څیزونه دی یو همزه دے او بل سکون دے او حروف دَسکون دری دی چه واو ساکن یاء ساکنه او الف دے که همزه او سکون دواړه پر یوه کلمه کښې وو نو هغې ته مد

طویل متصل ویلے شي مثال به ئي ښکه وی لکه اُولٰٓئِکَ
شه دامثال د الف او دَهمزه دے یالکه سُوْٓءَ شه دامثال دَ
دَواو او دَهمزه دے یالکه جِیْٓئَ شه دامثال دَ یاء او دَهمزه
دے نو پدِ کښ مدکول واجب دی په قدر دَ یو نیم الف
یا دَ دوه وو الفو یا دَ دوه نیم الفو یا دَ دری وو الفو دَ څلورو
الفو پوری اوکه همزه په بله کلیمه کښ وه او سکون په بله
کښ وه نو هغے ته مد طویل منفصل ویلے شی مثال به ئي
ښکه وی لکه وَمَآ اُنْزِلَ شه دامثال دَ الف او دَ همزه دے یا
لکه قَالُوْٓا اٰمَنَّا شه دامثال دَواو او دَ همزه دے یا لکه فِیْٓ اٰذَانِهِمْ
شه دامثال دَ یاء او دَهمزه دے او مد لازمی په څلور قسمه
دے یو کلیمی مثقل دے مثال به ئي ښکه وی لکه وَلَا الضَّآلِّیْنَ
شه او دو یم کلیمي مخفف دے مثال به ئي ښکه وی لکه آٰلْئٰنَ
شه او دریم حرفی مثقل دے او څلورم حرفی مخفف دے
مثال دَ دواړو لکه الٓمّٓ شه په لام باندِ مد مثقل دے او په
میم باندِ مد مخفف دے هر هغه لام چه دَ هغه سره میم نو ئي
نو په هغه باندِ مد مخفف وی مثال به ئي ښکه وی لکه
الٓرٰ شه نو پدِ کښ مدکول واجب دی په قدر دَ دریو الفو
باندِ او مد عارضی رازی له وجه دَ سکون عارضی نه مثال به
ئي ښکه وی لکه یُؤْمِنُوْنَ یا نَسْتَعِیْنُ یا حساب شه نو پدِ ی
کښ مد کول جائز دی په قدر دَ یو الف یا د دوه وو الفو تر دریِ
الفو پورې او مد لین دیته وائي چه واو ساکن وی او ما قبل ترِ
فتحه وی یا یاء ساکنه وی او ما قبل ترِ فتحه وی مثال دَ واو
لکه مِنْ خَوْفٍ شه او مثال دَ یاء لکه خَیْرٌ شه نو پدِ کښ
مد کول جائز دی په قدر دَ یو الف یا دَ دوه وُو الفو تر دریو و
الفو پورې ـ پس ایزده کړه د اخبره چه د قران شریف د ټیچ

اته ولیشت حروف دی شپږ حروف پکښ دَ اظهار دی چه همزه
او هاء او حاء او خاء او عین او غین دی او شپږ حروف پکښ
دَ ادغام دی چه یاء راء میم لام واو نون دی او یو حرف په
کښ دَ قلب دے چه باء ده او پنځلس حروف پکښ دَ اخفاء
دی چه تاء ثاء جیم دال ذال زاء سین شین صاد ضاد طاء ظاء
فاء قاف کاف دی نون ساکن کوره ملفوظ هم مکتوب
هم دَ اعرابه دے عفیف دَی وصلی دَی هم وقفی دَی هم
طرفی دَی بل اسم فعل حرف درِی واړه..... دَ وته تیار دی؛
تنوین هغه باله شی چه ئي دوه اعرابه وینه؛ په لفظ کښ
وایه شی دے په خط کښ چرته وینه؛ په وصل کښ ظاهر
دے په وقف کښ نه راځینه؛ په اسم کښ را دُرومی فعل حرف
دَ ده وزکار وی ؛ نون ساکن او تنوین چه ملاقی شي دَ
حروفو دَ اظهار سره نو هلته کړه اظهار اظهار په لغت کښ
مطلق جدا والی ته ویلے شی او په اصطلاحَ دَ قاریانو کښ خار
جول دَحرف دی دَمخرج خپل نه بے دَغنی نه په حروفو د اظهار
کښ مثال دَنون ساکن لکه مَنْ اٰمَنَ شه او مثال دَتنوین
لکه عَذَابٌ اَلِیْمٌ شه نون ساکن او تنوین چه ملاقی شی
دَحروفو دَ ادغام سره نو هلته کړه ادغام ادغام په لغت کښ
داخلول دَشی دی په شی کښ او په اصطلاحه دَ قاریانو کښ داخل
ول دَحرف ساکنه دی په حرف متحرک کښ په یا میم واو
نون کښ سره دَ غونې او په لام راء کښ بے دَغونې مثال دَ
نون ساکن لکه مَنْ یَّشَآءُ شه او مثال دَ تنوین لکه خَیْرًا یَّرَهٗ
شه نون ساکن او تنوین چه ملاقی شی دَحرف دَ قلب سره
نو هلته کړه اقلاب اقلاب په لغت کښ اړول دَشی ته ویلے
شي او په اصطلاحه دَ قاریانو کښ کرزول دَحرف دی په ځایَ

دَ بل حرف بانْدِ سره دَ غوني او دَ اخفانه په حرف دَ قلب بانْدِ
مثال دَ نون ساكن لكه مِنْ بَعْدِهِمْ شه او مثال دَ تنوين لكه
اَلِيْمٌ بِمَا كَانُوْا شه نون ساكن او تنوين چه ملاقي شي د حروفو
دَ اخفا سره نو هلته كړه اخفا اخفا په لغت كښ پټولي ته ويلے
شي او په اصطلاحه دَ قاريانو كښ تلفظ كول دي په حروفو دَ
اخفا بانْدِ په مابين دَ اظهار او دَ ادغام كښ سره دَ غوني نه
چه خالي وي دَ شد نه مثال دَ نون ساكن لكه مَنْ صَبَرَ شه او
مثال دَ تنوين لكه مُلْكًا كَبِيْرًا شه هر ميم نون مشدد دا اكيږي
سره دَ غوني مثال دَ ميم لكه اَمَّا شه او مثال دَ نون لكه اِنَّ اللّٰهَ
شه په ميم ساكن پسي چه بل ميم راشي نو هلته كړه ادغام سره
دَ غوني مثال به يے ښكه وي لكه فِيْ قلوبهم مرض شه او په
ميم ساكن پسي چه باء راشي نو هلته كړه اخفا سره دَ غوني مثال به
يے ښكه وي لكه وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا شه په ميم ساكن پسي
چه بے دَ ميم باء نه هر يو حرف راشي نو هلته كړه اظهار شفوي
مثال به يے ښكه وي لكه مِنْ قَبْلِكُمْ وَ اِيَّايَ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ
شه او حروف دَ قلقلے كوره چه پنځه دي چه قاف طاء باء جيم
دال دي. چه ساكن وي دَ وقف سره يا بے دَ وقفه نو هلته
كوره قلقله مثال دَ ساكن بے وقفه لكه يَدْخُلُوْنَ شه او مثال
دَ ساكن سره دَ وقف لكه بِالْحَقِّ، او كه پس دَ الف لام نه يو حرف دَ
حروفو قمري وَ راشي چه څوارلس دي نو هلته كړه اظهار لكه
چه جمع شويدي په كليمو كښ اِبْغِ حَجَّكَ وَخَفْ عَقِيْمَهُ مثال به يے
ښكه وي لكه وَالْعَادِيَاتِ وَ الْعَصْرِ شه او كه پس دَ الف لام نه يو حرف
دَ حروفو شمسيه وَ راشي نو هلته كړه ادغام لكه چه جمع شويدي
په كليمو كښ تَثْلَدْ زَرُسَشْ صَضْ طَظْ لَنْ شه مثال به يے ښكه
وي لكه وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ شه . ايزده كړه طالب وته حكمونه

دَ راء را ءِ خو ده كرانه سوال كوه دَ الله كه وي مفتوحه يا
مضمومه نو تفخيم كوه ته مثال دَ مفتوحي لكه رَجُلٌ شه او
مثال دَ مضمومي لكه رُبَمَا شه او كه وي مكسوره نو ترقيق كوه
ته مثال به يے ښكه وي لكه رِجَالٌ شه او كه وي ساكنه
نو فكر كوه ترِ وړمبي ته كه وي مفتوح يا مضموم نو تفخيم كوه ته
مثال دَ مفتوح لكه مَرْيَمَ شه او مثال دَ مضموم لكه مُعْرِضُوْنَ شه
او كه وي مكسوره نو ترقيق كوه ته مثال به يے ښكه وي لكه
مِرْيَةٍ شه ولي هاله چه دا كسره عارضي نوي او كه عارضي
وي نو تفخيم كوه ته مثال به يے ښكه وي لكه لِمَنِ ارْتَضٰى شه
او چه نوي پس له دِ نه حرف مفتوحه له حروفو دَ استعلانه
چه اوه دي چه صاد ضاد طاء ظاء خاء غين قاف دي او كه دي
پس له دِ نه حرف مفتوحه دَ حروفو دَ استعلانه نو تفخيم كوه
ته مثال به يے ښكه وي لكه مِرْصَادٍ قِرْطَاسٍ شه او كه وي
فِرْقٍ مكسور نو ترقيق كوه ته مثال به يے ښكه وي لكه فِرْقَةٍ شه
او كه وي ساكنه په سبب دَ وقف سره فكر و كړه ترِ وړمبي حرف
ته كه وي مفتوح يا مضموم نو تفخيم كوه ته مثال دَ مفتوح لكه
سَقَرَ شه او مثال دَ مضموم لكه وَانْظُرُوْا شه او كه وي مكسور
نو ترقيق كوه ته مثال به يے ښكه وي لكه مُدَّكِرٍ شه او كه وي
ساكن فكر و كه ترِ وړمبي ته چه حرف ثالث يا ديږي كه وي
مفتوح يا مضموم نو تفخيم كوه ته مثال دَ مفتوح لكه بِالصَّبْرِ شه
او مثال دَ مضموم لكه وَالْخُسْرِ شه او كه وي مكسور نو ترقيق كوه
مثال به يے ښكه وي لكه وَالسِّحْرِ شه او كه وي ساكن پس دَ حرف
لين نه نو ترقيق كوه ته مثال به يے ښكه وي لكه خَيْرٍ شه پس
ايزده كړه دا خبره چه اصل دَ مخرجونو پنځه دي يو دَ هغے پنځه
دَ مخرجونو نه جوف دے او دَ جوف دَ پاره دري حرفه دي چه واو

ساکن وی او ماقبل تر ضمه وی یا یاء ساکنه وی او ماقبل تر کسره
وی یا الف وی او ماقبل تر فتحه وی مثال به ئې څنګه وی لکه
نُوحِيهَا شه او دویم مخرج دَ پنځه وُ مخرجونو نه حلق دے پس په
حلق کښ دری مخرجه دی یو اقصی دویم وسط دریم اعلی دے
اقصی لره دوه حرفه دی چه همزه او هاء دی او وسط لره هم دوه
حرفه چه حاء عین دی او اعلی لره هم دوه حرفه دی چه خاء او غین
دی او دریم مخرج دَ هغې پنځوُ مخرجونو نه خوله ده پس په خوله کښ
لس مخرجه دی او اتلس ئې حرفه دی اول مخرج دَ قاف دے چه
بیخ دَ ژبې او بیخ دَ تالو دے او دویم مخرج دَ کاف دے چه نزدِ دے
مخرج دَ قاف ته او دریم مخرج دَ جیم دشین دَ یاء دے هغه یاء چه نوی
مدا چه مینځ دَ ژبې او مینځ دَ تالو دے او څلورم مخرج دَ ضاد دے
چه غاړه دَ ژبې نزدی دے غاښونو اضراسو علیاؤ ته او پنځم
مخرج دَ لام دے چه ادنی طرف دَ ژبې او دَ تالو دے او شپږم مخرج
دَ نون دے چه نزدی دے مخرج دَ لام ته او اووم مخرج دَ راء دے
چه نزدی دے مخرج دَ نون ته او اتم مخرج دَ تاء دَ دال دَ طاء دے
چه سر دَ ژبې او بیخ دَ ثنایاؤ علیاؤ دے او نهم مخرج دَ زاء دَ سین
دَ صاد دے چه مینځ دَ ثنایاؤ دے او لسم مخرج دَ ظاء دَ ذال دَ ثاء
دے چه سر دَ ژبې او غاړه دَ ثنایاؤ علیاؤ ده او څلورم مخرج دَ
هغې پنځه وُ مخرجونو نه شونډی دی پس په شونډو کښ دوه
مخرجه دی او څلور حرفه دی اول مخرج دَ فاء دے چه غاړه دَ برو
غاښونو او مینځ دَ کوزی شونډی دے او دویم مخرج دَ واو دَ
باء دَ میم دے چه مینځ دَ دواړو شونډو دے لیکن په واو سره
شونډی بیرته کیږی او په باء میم سره شونډی یو ځائے کیږی
او پنځم مخرج دَ هغې پنځه وُ مخرجونو نه تمبیږی دی پس په تمبیږ د
کښ یو مخرج دے او دوه ئې حرفه دی چه میم نون دی چه غونوی وی

مثال دَ میم غونوی لکه اَمَّا شه او مثال دَ نون غونوی لکه
وَالنَّاسِ شه. ایزده کړه دا خبره هر هغه هواء چه خارجیږی
دَ داخله دَ انسان نه او اورید و نکی نوی نو هغې ته نفس ویلے
شی او چه اورید و نکی وی نو هغې ته صوت ویلے شی پس چه
بند کړے شی دا صوت په مخرج کښ نو هغې ته حرف ویلے شی او
چه لحاظ وکړے شی دَ ډک والی او دَ باریک والی دَ ښکته والی
او دَ پورته والی دَ حرف نو هغې ته صفت ویلے شی. پس ایزده
کړه دا خبره چه دَ قران شریف دَ پنځه یو کم دیرش حروف دی
او اوه ئې صفات دی صفت په لغت کښ هغې ته وای چه قائم وی
په شی پوری دَ معانی وُ نه او په اصطلاح کښ یو کیفیت دے چه
وړاندِ کیږی حرف وته په وخت دَ اداء کښ په مخرج خپل کښ دَ
مجهوریة او دَ رخاوة نه یو دَ هغې صفاتو نه همس دے همس په لغت کښ خفاته
ویلے شی او په اصطلاح دَ قاریانو کښ جاری کیده دَ نفس دی په وخ
دَ اداء دَ حروفو مهموسیو کښ که وجه دَ ضعف دَ اعتماد دَ له دی نه په
مخرج خپل کښ او حروف مهموسیه لس دی لکه چه جمع شوید ی
په دِ کلیمو کښ فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتْ او ما سوا نول دی مجهوریه دا
قسم دویم دے، جهر په لغت کښ اعلان ته وئیلے شی او په اصطلاح
د قاریانو کښ بندیدل دَ نَفَسْ دی په وخت دادا دَ حروفو مجهوریه
وُ کښ، له وجه دَ قوت ته او دَ اعتماد ه له د بیته په مخرج خپل کښ او حروف
مجهوره نولس دی چه الف باء جیم دال ذال راء زاء ضاد طاء ظاء عین
غین قاف لام میم نون واو همزه یاء دی او دریم دَ هغې صفاتو نه شد
یدیت دے شدیدیت په لغت کښ قوت ته ویلے شی او په اصطلاح
دَ قاریانو کښ بندی ده صوت دی په وقت دَ اداء دَ حروفو شدیدیه
وُ کښ په مخرج خپل کښ او حروف شدیدیه اته دی لکه چه جمع شویدی
په دِ کلیمو کښ اَجِدُ قَطٍ بَكَتْ او یو دَ هغې صفاتو نه بینیت دے په مابین

خروج کښې د طرفه د ژبې او د شونډو نه او حروف د اصمات دیرلیش دی چه الف تاء ثاء جیم حاء خاء دال ذال زاء سین شین صاد ضاد طاء ظاء عین غین قاف کاف واو هاء همزه یاء دی. او یولس د هغې صفاتو نه صفیریت دے صفیریت په لغت کښې صوت ته ویئلے شی چه مشابه وی د صوت د مارغه سره او په اصطلاح د قاریانو کښې صوت زائد دے چه خارجیږی د شونډو نه او حروف صفیره دری دی چه زاء سین صاد دی او دولس د هغې صفاتو نه قلقله ده قلقله په لغت کښې پریشان تیا ته ویلے شی او په اصطلاح د قاریانو کښې خوزه ول د حرف دی په مخرج خپل کښې د هغې پوری چه واوریدے شی د هغې نه اواز قوی او حروف د قلقلے پنځه دی چه قاف طاء باء جیم دال دی چه ساکن وی په وقف سره یا بے د وقف نه او دیارلسم د هغې صفاتو نه لین دے اولین په لغت کښې سهولت ته ویئلے شی او په اصطلاح د قاریانو کښې خارجول د حرف دی په اسانتیا سره د مخرج خپل نه او حروف د لین دوه دی چه واو یاء دی چه ساکن وی او ورمبی ترِ نه زور وی او څوارلسم د هغې صفاتو نه انحراف دے انحراف په لغت کښې میلان ته ویئلے شی او په اصطلاح د قاریانو کښې مائله کول د حرف دی د مخرجه خپل نه د هغې پوری چه ورسیږی مخرج د غیر ته او حروف د انحراف دوه دی چه لام راء دی او پنځلسم د هغې صفاتو نه تکرار دے تکرار پلغت کښې اعادی ته ویئلے شی او په اصطلاح د قاریانو کښې پورته والے د ژبې دے په وقت د اداء د حرف د تکرار کښې او حرف د تکرار یو دے چه راء ده او شپاړسم د هغې صفاتو نه تفشی دے او تفشی په لغت کښې خوروالی ته ویئلے شی او په او په اصطلاح د قاریانو کښې خوروالی د هوا دے په خولې کښې د هغې پوری چه ورسی مخرج د ظاء ته او حرف د تفشی یو دے چه شین دے او اولسم

دَ هغې صفاتو نه استطالت دے استطالت په لغت کښې اوږدوالی ته ویئلے شي او په اصطلاح دَ قاریانو کښې اوږدوالے دَ صوت دے دَ اوله طرفه دَ ژبې نه تر اخره پورې او حرف دَ استطالت یو دے چه ضاد دے۔

تمت

سبب رواج قراءت

امام اعظم رحمۃ اللہ شاگرد دَ امام عاصمؒ وه او خلق دَ دِ ښهرونو او کلو په مذهب دَ دوی او دا قراءت خلقو ته دَ دوی نه رسیدلے او خور شوے بیدے او حضرت امام صاحب هم پدِ قراءت تلل او اکتفا کړیدی ولې چه امام صاحب رحمۃ اللہ علیہ علاوه دَ علم فقهِ په نورو علوم کښې هم ماهر کل وه او په صلوٰۃ مسعودی کښې راوړیدی چه رموز دَ قراءت سبعه په طریقه دَ امام شاطبی دَ دِ بیت نه بهر راوزی ؛ اَبَجْ دَهَزْ حُطِّیْ کَلِمَ نَصَعِ فَضَقْ رَسَتْ بِکُلِّ اِمَامٍ خَوْفُ رَمْزٍ تَحَصَّلاً ؛ یعنې دَ الف نه مراد امام نافع دے او دَ بٓ نه قالون او دَ جٓ نه ورش او دَ دٓ نه ابن کثیر او دَ هٓ بزی او دَ زٓ نه قنبل حٓ امام ابو عمرو او دَ طٓ نه دوری۔ او دَ یٓ سوسی او دَ کٓ نه امام ابن عامر او دَ لٓ نه هشام او دَ مٓ نه ابن زکوان او دَ نٓ نه امام عاصم او دَ صٓ نه ابوبکر او دَ عٓ نه حفص او دَ فٓ نه حمزه او دَ ضٓ نه خلف بزاز او دَ قٓ نه ابو عیسٰی حلاد او دَ رٓ نه امام کسائی او دَ سٓ نه ابو الحارث تٓ دوری۔ فقط وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

حسب فرمائش
جناب باباجی صاحب ڈهیری علاقہ نکپے خیل ریاست سوات

سلسلهٔ قادریه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِلٰهِیْ - بحرمت آنراز و نیاز که تو با جناب محترم محمد عبد الغفار صاحب سواتی رحمة الله علیه داشتی۔

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با جناب محترم حافظ فضل شاہ ملیزی رحمة الله تعالیٰ علیه داشتی۔

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با شیخ کیچلی صاحب رحمة الله تعالیٰ علیه داشتی۔

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با شیخ خلیل الرحمٰن صاحب ریحان کوټی رحمة الله علیه داشتی

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با غوث الزمان شیخ عبد الغفور صاحب سواتی سیدو رحمة الله علیه داشتی

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با شیخ محمد شعیب تور ډهری رحمة الله تعالی علیه داشتی

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با شیخ حافظ محمد عمرزائی رحمة الله علیه داشتی

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با شیخ محمد صدیق بشونړی رحمة الله تعالی علیه داشتی

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با شیخ جنید پشاوری رحمة الله تعالی علیه داشتی

اِلٰهِیْ بحرمت آنراز و نیاز که تو با شیخ احمد ملتانی رحمة الله تعالی علیه داشتی

الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ شاه دهلوی رحمة الله علیه داشتی -
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توبا شاه منور رحمة الله علیه داشتی -
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشاه دوله رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ غوث الاعظم دستگیر رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ ابو السعید المخذومی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ ابوالحسن هنکاری رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ ابوالفرح الطرطوسی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ عبد الواحد تیمی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ شبلی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ جنید بغدادی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ عبدالله سری سقطی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ معروف کرخی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ داؤد طائی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ حبیب عجمی رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباشیخ حسن بصری رحمة الله علیه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توباحضرت علی کرم الله وجهه داشتی
الٰهی بحرمت آنراز و نیازکه توبا سید الکونین صلی الله علیه وسلم داشتی -
الٰهی بحرمت ذات مقدس وصفات کمال خویش تو حاجات مرا مقبول گردان مراد من بمن موصول گردان - تمّت بالخیر

ملنے کا پتہ

الحاج قاضی محمد عبد الغفار صاحب المشهور به باباجی صاحب ڈھیری
(علاقہ ننگ پے خیل ریاست سوات)

بکتابت عبد الودود خوش رقم غفر لہٗ